

# رمضان او
# د نفس
# اصلاح

(د علمي - څېړنيز سيمينار د مقالو ټولګه)

۱۴۰۵ هـ لمريز کال

رمضان او د نفس اصلاح

(د علمي - څېړنيز سيمينار د مقالو ټولګه)

# Ramadan and Self-Purification

ISBN 978-9936-672-13-0

9 789936 672130

2026

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د اسلامي علومو معاونیت

د تفسیر او حدیث مرکز

# رمـضان او د نفـس اصـلاح

(د علمي ـ څېړنیز کنفرانس د مقالو ټولګه)

کابل افغانستان

۱۴۰۵ هـ لمریز کـــال

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه نورالحق عزیزي د کمیسیون رئیس

څېړندوی صالح محمدفرید د کمیسیون منشي

څېړنپوه عبدالولي بصیرت غړی

څېړنپوه ویس الدین نوري غړی

علامه عبدالستار محمدي غړی

څېړنپوه عبدالرحمن حکیمزاد غړی

څېړنپوه سید حبیب شاکر غړی

څېړنپوه عبدالناصر باهر غړی

**د کتاب ځانګړنې:**

---


**د کتاب نوم:** رمضان او د نفس اصلاح (د علمي - څېړنیز کنفرانس د مقالو ټولګه)

**لیکوالان:** یو شمېر څېړونکي

**ترتیب او اهتمام:** څېړندوی صالح محمد فرید

**د کنفرانس کال:**٦/١٢/ ١٤٠٤ هـ لمریز مطابق د رمضان٨ مه ١٤٠٧ هـ سپوږمیز

**د چاپ کال:** ١٤٠٥ هـ لمریز مطابق د ١٤٤٨ هـ سپوږمیز

**د چاپ ځای:** حبیب ناصر مطبعه

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**پته:** د افغانسان علومو اکاډمي، شاه بوبو جان کوڅه، نوی ښار، کابل

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د اړیکو شمېره: ٠٢٠٢٢٠١٢٧٩(٠٠٩٣)**

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست ایمیل:** info@asa.gov.af

**ISBN** : ٠- ١٣- ٦٧٢- ٩٩٣٦- ٩٧٨


---


**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**


---

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْنَ.

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د مرکز یادښت.......................................................................... أ
((رمضان او د نفس اصلاح)) علمي – څېړنیز کنفرانس ته د علومو اکاډمي عمومي رئیس شیخ الحدیث مولوي فریدالدین محمود حفظه الله د وینا متن..........................ج
د اسلامي علومو د ښاغلي معاون مفتي ابو سعید الراشد حفظه الله وینا..........................ط
سریزه.................................................................................................. ۱
د نفس د اصلاح مفهوم / څېړنوال مفتي شاه محمد «قاسمي»....................... ٦
رمضان ماه خود سازی / محقق کمال «نوري»........................................... ٤١
د تراویح لمونځ او د نفس په اصلاح کې یې ونډه / څېړنوال مفتي عبدالحق «حقاني»......... ۸۳
تهجد او د نفس په اصلاح کې یې ونډه / مفتي رشید احمد «انقیادي»........................ ۱۲٦
په رمضان کې د مؤمن ټولنیز مسئولیتونه / څېړنیار رفیع الله «نور»........................ ۱٤٥
د قرآن کریم تلاوت او د نفس په اصلاح کې یې ونډه / څېړندوی احسان الله «حلیمي»..... ۱٦٤
اعتکاف او د نفس په اصلاح کې یې ونډه / څېړندوی عصمت الله «رحمتزی».............. ۱۸۹
روزه ماه صبر و بردباری / معاون سرمحقق یار محمد «صمدی»........................... ۲۱۷
د رمضان اصلاحي پیغامونه / بلال احمد «امین»........................................... ۲۳٥
د روژې تېرولو مهال وېش او د نفس په اصلاح.../ څېړنوال محمد امان «رسولي»............ ۲٤۷
د نفس په اصلاح کې د رمضان رغنده پیغامونه / څېړنوال محمد یعقوب «نائل»............ ۲٦۸
د رمضان اسرار او ځانګړتیاوې / څېړندوی عزیزالرحمن «رحماني».......................... ۲۸۷
رمضان د ځان جوړونې ښه فرصت / څېړندوی اسدالله «میاخېل»............................ ۳۱۸
رمضان او له ګناه سره مبارزه / څېړنوال مفتي محمد ابراهیم «حقاني»...................... ۳۳۸

# د مرکز یادښت

اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالْصَّلَوٰةُ وَالْسَّلامُ عَلَىٰ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

و بعد:قرآن کریم چې په رمضان کې نازل شوی دی، ویلی شو چې رمضان د قرآن کریم میاشت ده، په دې میاشت کې یو خاص تاثیر او برکت وي چې د مسلمانانو تعلق له پرودګار، قرآن کریم، لمانځه، اذکارو او نورو عباداتو سره ټینګیږي. په کورونو او جوماتونو کې د نفسونو د اصلاح یو ځانګړی بهیر پیل شي. د رسول الله (صلی الله علیه و سلم) په ویناو کې د رمضان او قرآن کریم د شفاعت په اړه ویلي شوي دي چې دواړه د بنده لپاره شفاعت کوي: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍوؓ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ، يَقُولُ الصِّيَامُ: رَبِّ مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّرَابَ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ، وَيَقُولُ الْقُرْآنُ: رَبِّ مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ، فَيُشَفَّعَانِ »[مسندأحمد:٦٢٢٦].

(له عبدالله بن عمروؓ نه روایت دی چې رسول الله ﷺفرمایلي دي: روژې او قرآن کریم د قیامت په ورځ بنده لپاره شفاعت کوي، روژې وایي: ای ربه! ما دی خوراک او څښاک څخه د ورځې منع کړی وو نو زما شفاعت د ده په هکله ومنه او قرآن کریم وایي:ای ربه! ما د شپې له خوب څخه منع کړی وو نو زما شفاعت د ده په هکله ومنه نو د دواړو شفاعت منل کیږي).

معنی دا چې صیام او قرآن کریم دواړه د بنده په خیر دي،دواړه د روژې اسباب دي چې د نفس اصلاح ورسره راځي،.باطني او روحي تزکیه ورسره ترسره کیږي،د بنده بندګۍ کې نوی روح پیدا کیږي، مواسات او د فقیرانو لاسنیوي او سخاوت کې د انسان لاس پراخه کیږي، د عباداتو په تحسین او ښه اداء کې زړه قوي کیږي او په پای کې د بنده خپل رب سره تعلق او اړیکه پیاوړې کیږي.

د نفس د اصلاح په موخه د رمضان او قرآن کریم د پیغامونو د رسولو په پار د افغانستان د علومو اکاډمي د اسلامي علومو برخې د تفسیر او حدیث د مرکز په نوښت

او زیـار د چهارشـنبې پـه ورځ د ۱۴۴۷هــ ق کـال د رمضـان المبـارک پـه ۸مـه د ۱۴۰۴هجري لمريز کال د حوت په ٦ مه نېټـه، د افغانسـتان د علومـو اکـاډمي د علامـه احمدعلي کهزاد د کنفرانسونو او سيمينارونو په تالار کـې (**رمضـان او د نفـس اصـلاح**) علمي-څېړنيـز کنفرانس دايـر شـو، پـه دې کنفـرانس کـې د علومـو اکـاډمي پـر پوهـانو سربېره نورو پوهانو هم د قرآن کريم په دې مبارک محفل کـې گـډون کـړی وو، د وينـاوو ترڅنگ د څېړونکو له خوا څو علمي- څېړنيـزې مقـالې هـم وړانـدې شـوې چـې د قـرآن کريم تل پاتې روزونکي او اصلاح ښونکي پيغامونـه او د هغـه د هـداياتو او لارښـوونو پـه عملي کولو په ټينگار سره سره گټورې، رغنده او عملي طرحې هم وړاندې شوې.

د تفسير او حديث مرکز غواړي چې د دغه مهم او پـه زړه پـورې کنفـرانس د مقـالو ټولگه خپره او نشر کړي، د دې ټولگې د اهتمام چارې ښـاغلي څېړنـدوی صـالح محمـد فريد ته وسپارل شوې، له نوموړي څخه زياته مننه کـوو چـې پـه وريـن تنـدي يـې د دې کنفرانس مقالې راټولې، ترتيب او د چاپ لپاره يې چمتو کړې؛. ترڅو د يـاد کنفـرانس د مقالو له ټولگې څخه درانه هېوادوال او مينه وال علمي او عملي استفاده وکړي.

**والسلام**

**مولوي عرفان الله "عرفان"**

**د تفسير او حديث مرکز رئيس**

# «رمضان او د نفس اصلاح» علمي – څېړنيز کنفرانس ته د علومو اکاډمي عمومي رئيس شيخ الحديث مولوي فريدالدين محمود د وينا متن

اللّٰهُمَّ صل وسلم و بارك علي سيدنا محمد وعلي اله وأصحابه أجمعين, أما بعد:

أعوذبالله من الشيطان الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ [البقرة : ۱۸۳]

محترمو د کنفرانس حاضرينو، علماء کرامو، پوهانو! الله ﷻ مو دا سعی قبوله کړه، د رمضان او نفس په اصلاح کې مو چې هر څومره تحقيق کړی دی، الله ﷻ دې در څخه قبول کړي.

دا خو ټول امت ته معلومه ده چې روژه مبارکه د اسلام له پنځو بناوو څخه يوه بنا ده او دا يوه بېش قېمته تحفه ده د رسول الله صلی الله عليه وسلم د أمت لپاره او دا د ګټو مياشت ده، رسول پاک صلی الله عليه وسلم فرمايي: (( بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ)) (صحيح البخاري - ۱ / ۱۱) أو كَمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. اسلام په دې پنځو بناوو باندې بنا ده چې اول کلمه طيبه ده لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ د لمانځه اقامه، زکات ورکول، حج او د رمضان د مياشتې روژې نيول دي، دا داسې اعمال دي چې دې باندې قيام د اسلام راغلی دی عمود د اسلام دي او د دې فضائل، ګټې او د دې نقش د انسان په جوړولو کې أظهر من الشمس دی، په دې اړه دومره مواد دي چې هر څېړونکی ورته ولګيږي وربانديې کتابونه ليکلی سي.

نو زه په نورو جوانبو باندې بحث نه کوم؛ ځکه چې دلته خو ځېرونکو د روژې په مختلفو اړخونو باندې مقالې لیکلي دي، څېړنې یې کړې دي، زه فقط دا یوه خبره کومه، چې انسان همیشه همیشه د ګټې په تکل کې وي همېشه دا هڅه کوي چې زه ګټه وکړم، زه نفع تر لاسه کړم، زه کامیاب سم، زه یوې لوړې درجې ته ورسېږم نو د کامیابۍ د معیار په اړه زه دا خبره بار بار کوم؛ چې مونږ او تاسې باید دې ته متوجه سو، د کامیابۍ معیار هم د هر انسان په ذهن کې خپل، خپل وي، اوس مثال دلته چې کوم څېړونکي دي دوی دا کوښښ کوي چې زه دا کوم د تحقیقاتو مراتب چې دي دا ټول ترلاسه کړم، له نوماند څېړونکي څخه را ونیسه تر څېړنپوه او اکاډمیسن پورې، دا ټول مقامونه زه حاصل کړم، د خپلې څېړنې او جدو جهد په مټ دا ترلاسه کړم او زه کامیاب سم، دا یو تعداد خلک دي چې خپله کامیابي په دې کې وینې. یا د مثال په توګه وایي:که زه د ملک یو لوی وزیر یا چارواکی سم او خلک را ته سلام او احترام وکړي، په رسنیو کې مې یاد کړي او عالمي شهرت حاصل کړم، نو زه به کامیاب یم، یو دا خلک دي او یو هغه خلک دي، چې هغه وایې چې زه د آخرت د کامیابۍ لپاره چې کوم مراتب دي که دغو مراتبو کې لوړې درجې ته ورسېږم نو بیا به زه کامیاب یم. دا کامیابي په دوه ډوله ده، یوه د دنیا کامیابي او بله د آخرت کامیابي ده، نو مونږ او تاسې چې قرآن عظیم الشان ته نظر وکړو، قرآن عظیم الشان کې کامیابي په صریحو آیتونو کې ډېر ځای داسې راغلې ده: ﴿فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ... ﴾[آل عمران : ١٨٥] (نو هر څوک چې لرې کړی سو له اوره (د دوزخ) او داخل کړی سو جنت ته، نو په تحقیق مراد یې وموند (بریالی سو)، ) ﴿وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا﴾ [الأحزاب : ٧١].( او هر چا چې اطاعت وکړ د الله او د رسول د (الله)؛ پس په تحقیق بریالی (کامیاب) سو په بري ډېر لوی سره).

الله ﷻ دغه ته کامیاب ویلی دی، چې د الله ﷻ خبره و مني او اطاعت یې وکړي او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم خبره ومني او اطاعت یې وکړي ﴿ فَقَدْ

فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا﴾ نو دا سړی کامیاب سو په لوړې کامیابۍ سره، لـوړه کامیـابي هغـه ده چې، زمونږ یو استاذ وو الله ﷻ دې غریق رحمت کړي، ده به ویل: الله ﷻ چې هر شي ته عظیم ووایي د دې شي عظمت به لامحدوده وي؛ ځکه د اللـه ﷻ د ذات عظمـت لا محدوده ده، د پروردګار د ذات د عظمت پای څوک نـه سي معلومـولی، چـې دا څـومره عظیم دی، چې څومره تصور کوې تر هغه عظیم دی چـې څـومره تصـور کـوې تـر هغـه عظیم دی، چې دا تمامه دنیا تصور کړي تـر هغـه لا پسـې عظـیم دی چـې هـر څـومره تصور کوي تـر دې عظـیم دی، کـه اولیـاء الله تصـور کـوي کـه ملائکـه تصـور کـوي کـه بندګان تصور کوي، حتی داسي ملائکه شته چې پـه ابـو داود کـې یـو صـحیح حـدیث دی چې:عَنِ النَّبِيِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أُذِنَ لِي أَنْ أُحَدِّثَ عَنْ مَلَكٍ مِنْ مَلَائِكَةِ اللَّهِ مِنْ حَمَلَةِ الْعَرْشِ، إِنَّ مَا بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِهِ إِلَى عَاتِقِهِ مَسِيرَةُ سَبْعِ مِائَةِ عَامٍ».[ سُنَنَ أَبِي دَاوُدَ – (٤ / ٢٣٢) حديث(٤٧٢٧)]. وفي الطَبَرَانِي: (خَفَقَانَ الطير). د دې ملګـې لـه دې یـوه غـوږه تـر غاړې پورې یې (د تېز مارغه په پرواز باندې) د اووه سوه کلونـو لار ده، دومـره غټـه ملکـه ده!! نور یې څه کوې چې دا ملکه څومره غټه ده؟ دا ملکه هم د الله ﷻ په عظمت کـې حیرانه ده، هېڅ یې نه سي بیانولی.

نورې هم داسې د الله ﷻ غټې غټې ملائکې دې چې د الله ﷻ په عظمت کې حیرانې دي، اللهﷻ دومره عظیم دی، نو دومره عظیم ذات چې یوې کامیابۍ ته عظیمه کامیابي ووایي نو هغه کامیابي به هم لامحدوده کامیابي وي، د هغې د عظمت تصور هم بیا څوک نه سي کولای، ﴿فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ﴾ ډېره لوړه او عظیمه کامیابي ده، ﴿وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا﴾ د الله ﷻ او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په اطاعت کې دومره عظیمه کامیابي ده چې هېڅ یو بنده او مخلوق یې تصور نه سي کولای، دا دومره لوړه کامیابي ده!! یوه همدا کامیابي ده، نو د دې کامیابي لپاره هر څوک باید هڅه و کوې.

خو یوه ښه خبره دا ده چې په مونږ او تاسې په مسلمانانو باندې چې کـوم اعـمال فرض دي او مسلمانان یې په کړنو باندې د ثواب طمع لري، چې پـه دې بانـدې بـه الله

ﷻ ما ته ثواب راکړي، د دې اعمالو فضائل ځان ته حاضر او را یاد کړو، دا نن مجلس چې قائم سوی دا په دې قائم سوی چې د دې روژې مبارکې چې دا یو عمل دی، د دې د فضائلو استحضار وکړو، د فضائلو استحضار یې چې وکړو، نو انسان حریص دی خاماخا په خپله ګټه پسې منډه اخلي، هر هغه کوم کار کې چې د ده ګټه وي هغه کار پسې منډه اخلي او هغه کار کوي؛ ځکه وایې چې په دې کې مې ګټه ده، په دې کې مې فائده ده، که دنیوي وي او که اخروي وي بیا هغه کار ته توجه کوي.

دا مجلس نن د دې لپاره دائر سوی چې روژه مبارکه دا یو عظیم عمل او د الله ﷻ له لورې په أمت باندې یو لوی رحمت دی، نو د فضائلو استحضار به یې وکړو چې په دې روژه کې د مسلمانانو لپاره کومې ګټې دي؟ بعضې یې دنیوي ګټو ته متوجه سوي دي بعضې یې اخروي ګټو ته متوجه سوي دي.

دا مقالې چې لیکل سوي دي مختلفې مقالې دي، نو هر مؤمن به دا وایي: په یوه کار کې چې دومره ډېرې ګټې وي نو زه به یې ولې نه کوم؟ نو دا د امت ترغیب دی دې ته چې دا عمل په ښه غور سره اداء کړي، مثلاً د روژې مبارکې دا یوه ګټه ده چې نفل یې په فرضو حساب دي او فرض یې یو په اویاوو حساب دی، دا خو کمه ګټه نه ده!! نه کومه معمولي ګټه ده. په فرضو باندې تاته اویا چنده حساب درکوي، نور کله چې کوم عمل کوي د هغې د معمول په څېر ثواب وي او هماغه عمل چې په روژه کې وکړې نو الله ﷻ یې اویا چنده ثواب درکوي، نفل په فرضو حساب دی.

نو هر سړی وایي چې باید دا روژه داسې تېره کړمه چې له ما څخه تهجد او د قرآن عظیم الشان تلاوت پاتې نه سي، زما څخه برالوالدین یا صلهٔ رحم پاتې نه سي، باید د قریبانو خدمت وکړم چې زما څخه محروم نه سي، داسې نور ډېر عبادات دي چې باید ډېر اهتمام ور ته وسي، نو دا ټول عبادات د سړي لپاره مضاعف (څوبرابره)ګرځي نو چې څو چنده ګرځي او انسان هم حریص دی چې د فضائلو استحضار وکړې نو بیا په هغه کار کې حتمًا هڅه کوي، په دې باندې چې سړی په خپله دقیق له زړه نه پوه شي او ورباندې ماشومان هم پوه کړي، سره د دې چې

ماشومان خو مکلف نه دي خو ځیني ماشومان ذکي وي ژر پوهیږي، همدارنګه ځوانان وربانديې پوه کړي، ښځې د روژه ماتې او پېشلمي ته د مړی تیارولو د خدمت په فضائلو پوه کړي.

دا میاشت د د عاء د استجابت میاشت ده، باید له الله ﷻ څخه دعاء ګانې وغواړو پروردګار ته وژاړو د الله ﷻ عاجز مخلوق یو، په هر څه کې الله ﷻ ته محتاج یو. الله ﷻ زموږ او تاسو عبادت ته د یوې ذرې احتیاج هم نه لري، که دا ټول مخلوق له اوله تر آخره دا ټول انسانان له اوله تر آخره دا ټول پېریان له اوله تر آخره، دا ټول په یوه غونډې باندې را جمع سي او له الله ﷻ څخه خپلې غوښتنې او سوالونه وغواړي او الله ﷻ د دوی ټولو سوالونه قبول کړي، که پېری دی که انسان دی له اوله تر آخره، د الله ﷻ په خزانو کې دومره کمی هم نه راځي لکه یوه ستن چې په دریاب کې ډوبه کړې او اوبه را واخلې، که دا ټول داسې نېکان سي لکه د یوه صالح سړي زړه غونډې، د الله ﷻ په خدایی کې یوه ذره زیادت نه راځي او که دا ټول داسې بدان سي لکه د یوه بد سړي زړه غونډې د الله ﷻ په خدایی د یوې ذره کمبود هم نه راځي.

الله ﷻ صمد ذات دی نه زموږ او تاسې عباداتو ته محتاج دی او نه زموږ او تاسو له دښمنی څخه د ده په خدایی کې کمبود راځي، هغه عظیم ذات دی، هغه مستغني او بې پروا ذات دی، هغه ته موږ محتاج یو، دی موږ ته محتاج نه دی؛ نو فلهذا کله چې موږ ورته په هر څه کې محتاج یو او بیا دغه روژه ده چې په دې کې زموږ د دنیا او آخرت ګټې هم دي، چې د دنیا ګټې هم خلکو تجربه کړي، ډېر خلک سخت مریضان وي خو په روژه کې یې الله ﷻ جوړ کړي، اوس ساینس پوهانو په دې اړه پلټنې کړي چې، په روژه کې ډېرې روغتیایي ګټې دي.

نور زه خپل مجلس ډېر نه اوږدوم د مقالو لیکوالانو ته به وخت ورکړو، الله ﷻ دې موږ ته د دې روژې قدر را په نصیب کړي الله ﷻ دې موږ ته دا توان راکړې چې روژه مبارکه په داسې طریقه باندې تېره کړو چې ګټه ور څخه تر لاسه کړو. د قدر شپه هم د روژې په میاشت کې ده او د هغې لټون وکړو او د قدر د شپې لټون په دې سره کیږي

چې سړی د شپې یو څه وخت په عبادت باندې مشغول سي. نور هم ډېر عبادتونه دي لکه یو چا ته زکات ورکول، مالي امداد کول دي یا د مور او پلار خدمت کول دي.

د مور او پلار په خدمت کې تقریبًا دا د اوس زمانې ځوانان ډېر بې پروا دي او دا بې پروایي یې ډېر لوی تاوان دی، څوک چې د مور او پلار خدمت نه کوي بیا وروسته به د ده هم څوک خدمت و نه کړي، همداسې به له خدمت څخه محروم وي او دا ډېر بد آزار لري او له آزار څخه د خلاصون فقط یوه لاره ده چې مور او پلار پسې وروسته له مرګه ډېرې دعاء ګانې وکړې، الله ﷻ مهربانه ده چې له آزاره یې خلاص شي، دې خبرې ته ډېر پام په کار دی چې مور او پلار سره باید ډېر پام وکړئ، خصوصًا چې سپین ږیري او سپین سرې شي.

همدارنګه که د انسان هر قریب وي، که خور وي، ترور وي باید صلهٔ رحمی ورسره و سي یا ماشومان وي چې باید ډېر ښه تربیه سي، خپلو ټولو نېکو کارونو ته باید توجه وکړو او خپلې کامیابۍ ته بیا په خاصه توګه هغه کامیابي چې الله ﷻ ورته لویه او عظیمه کامیابي ویلې ده د هغې د لاسته راوړلو لپاره زیاته هڅه وکړو. وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین.

# د اسلامي علومو د ښاغلي معاون مفتي ابو سعيد الراشد وينا

نحمده ونصلي على رسوله الكريم اما بعد:فأعوذبالله من الشيطان الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تبارک وتعالى في القرآن المجيد والفرقان الحميد: ﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ [البقرة : ١٨٥]. (مياشت د روژې هغه مياشت ده چې نازل کړی شوی دی په دې کې قرآن چې هدايت دی لپاره د خلکو او دليلونه دي ښکاره(له جنسه د هغو شيانو) چې هغه لاره ښيي او بېلوونکی د حق او باطل دی. نو هر څوک چې و مومي له تاسې(ای مکلفينو) دا مياشت نو ضرور دې روژه و نيسي د هغې (مياشتې). او هغه څوک چې وي ناجوړه يا په سفر کې بوزه وي، نو (پر ده باندې روژه نيول) په شمار(د خوړليو شويو ورځو) له ورځو نورو. اراده لري الله په تاسې د آسانتيا، (چې مسافر او مريض يې مخيَّر کړ)، او اراده نه لري په تاسې باندې د سختۍ او لپاره د دې چې پوره کړئ(تاسې په قضاء سره) شمار (د روژې د مياشتې) او په لويي سره ياد کړئ الله، په دې چې هدايت يې کړی دی تاسې ته او لپاره د دې چې تاسې شکر و باسئ (درخصت، اسانۍ او په نعمتونو باندې).

محترمو حاضرينو، څېړونکو، درنو مېلمنو، اداري کار کونکو او ټولو

استاذانو! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته:

د شيخ محمود صاحب له خبرو وروسته نه غواړو ډېرې خبرې وکړو او استاذانو او محققينو به د رمضان او اصلاح النفس په اړه خبرې کوي، زه فقط يو دوه ټکو ته اشاره کول غواړم. اوله خبره دا ده چې د رمضان په مياشت کې په علومو اکاډمۍ کې نن پر يوه موضوع باندې چې هغه د رمضان متعلق او يا هم د رمضان کې چې کوم فضايل دي د هغو متعلق وي، هر کال سيمينار او کنفرانس نيول کيږي او علماء بيا په دې مورد کې څېړنې کوې او خپلې څېړنې وړاندې کوي. بايد ووايم: له دې کنفرانس څخه هدف څه شی دی؟ يو خو ساده هدف دی، څېړنه د څېړونکو دنده او کار دی او هر سړی غواړي چې دغه خپل کار په جريان کې يوه مقاله دې کنفرانس ته وليکي، دا خو د ده د دندې يوه برخه ده، که هدف په دې کنفرانس کې دا وي چې مونږ يواځې او يواځې خپل د کار بهير په کې وړاندې کوو، دا به ډېره مؤثره نه وي. دوهم هدف: هغه دا وي، کله کله يوې ادارې ته چې کوم کار ور سپارل شوی وي د هغو کارونو په بهير کې نظام ته يوه لاس ته راوړنه وړاندې کوي، نو هغه هر څوک په خپل تخنيکي برخه کې خپل تخنيکي کارونه وړاندې کوي او همدارنګه نور شيان هم وړاندې کوي، دا هدف هم دومره ډېر زيات مؤثر هدف نه دی. دريیم: په رمضان کې د دې کنفرانس د وړاندې کولو تر ټولو ستر هدف دا دی چې وړاندې کوونکی، اورېدونکي، ليکونکي او ترتيب کونکي، دا ټول د دغه کنفرانس له لارې څه چې په دې کنفرانس کې اوري، څه چې په دې کنفرانس ليکي او څه چې ترتيبوي و هغو ته د عمل کولو اراده وکړي، که چېرته مونږ په دې کې کامياب شو، که چېرته مونږ په دغه باندې وتوانيږو چې په دې کنفرانس کې

چې څه وايو، څه اورو او څه ليکو، دغه په خپل ځان، خپله ټولنه او خپله کورنۍ کې عملي کړو نو دا بيا يو کامياب کنفرانس دی. نو دا کنفرانس چې د کوم څه لپاره داير شوی هغه هدف يې ترلاسه کړ، بيا په تېره اوسنی کنفرانس چې عنوان يې هم ( په رمضان کې د نفس اصلاح) په اړه باندې دی.

لهذا که چېرته مونږ په دغه باندې و توانيږو، بيا مونږ او تاسې کامياب يو ان شاء الله او بيا به زمونږ او تاسې دغه کنفرانس مفيد او ګټور تمام شي؛ لهذا زما غوښتنه له ټولو ملګرو نه په ډېره مؤدبانه توګه دا ده چې له همدا اوس نه دا اراده وکړو چې، څه اورو، څه وايو په هغو به د عمل کولو پخه اراده کوو، دا اراده داسې شی دی، انسان چې کوم کار غواړي چې هغه تر سره کړي؛ ترڅو يې چې اراده نه وي کړې هغه کار نه تر سره کيږي.

تبليغيان حضرات چې د دعوت په لاره کې له خلکو نه مطالبه کوي چې څلور مياشتې، يوکال، درې کاله اراده وکړئ، په دې اړه يو مثال ورکوي، وايي: ځيني خلک نوم ليکي او اراده نه کوي. د ارادې هدف دا ده چې په زړه کې به دا خبره په کلکه کوي چې زه به خاماخا دا کار عملي کوم، خو که بيا الهي تقديراتو کې کومه ستونزه را پېښه شوه نو بيا هغه جدا خبره ده، خو اراده يواځې په خولې ويلو سره نه ده چې څوک ووايي زما اراده ده.

فقهاء کرام رحمهم الله اراده داسې تعريفوي: (الإرادة المتوجهة نحوالفعل)، لهذا الله ﷻ دې اول ما ته او بيا ټولو ملګرو ته توفيق راکړي چې دې کنفرانس ته د عمل کولو په اراده باندې کښېنو، څه چې اورو په هغو باندې د تطبيق کولو په اراده باندې کښېنو، که چېرته مونږ او تاسې په دغه اراده باندې يو، نو ان شاء الله زمونږ او تاسې دغه کنفرانس به ګټور وي، الله ﷻ

دې مونږ ټولو ته توفيق راکړي همدارنګه هغو استاذانو ته چې مقالې يې ليکلي دي، هغو استاذانو ته چې دغه ترتيب يې برابر کړي **الله** ﷻ دې ټولو ته اجرونه ورکړي.وَالسَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ

# سریزه

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلِّي ونسلِّم على رسوله الكريم، أمَّا بعد؛

د اسلام مبارک دین د انسان د فلاح او د ټولنیز بدلون بنسټ او اساس د نفس په اصلاح پورې تړلې ده، قرآن کریم او نبوي سنت د نفس تزکیه د بریا معیار ګڼي، الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا ﴾ [الشمس: ٩] (چې په تحقیق سره نجات و مونده په مراد و رسېد هغه څوک چې پاک یې کړ دا (نفس له معاصیو). او علماء کرامو هم د همدې اصل پر بنسټ د اخلاقي، روحي او ټولنیزې اصلاح منظم فکري نظام وړاندې کړی دی، د فردي او ټولنیز فساد اصلي ریښې د نفس په فساد کې دي.

مونږ کولای شو د رمضان په مبارکه میاشت کې چې دا میاشت د ځان جوړونې ښه فرصتونه او اصلاحي پیغامونه له ځانه سره لېږدوي، د یوه منظم مهال وېش مطابق خپل ورځني عملونه منظم او د تهجد، قیام‌اللیل، تراویحو، تلاوت او اعتکاف په مرسته خپل نفسونه اصلاح او له ګناهونو سره په کې مبارزه وکړو، یاد عبادتونه یواځې ساده نفلي عبادتونه نه دي، بلکې د انسان د ایمان د قوت، د نفس د تزکیې او د روح د صفا کېدو لپاره یوه بنسټیزه روزنیزه وسیله ده. کله چې بنده د شپې په چوپتیا او آرامتیا کې د خپل رب ذوالجلال حضور ته په خپل مُعْتَكَفْ یا خُونه کې د خشوع او عاجزۍ په حالت کې و درېږي، لمونځ کوي، تلاوت او ذکر کوي، دا حالت د عبودیت حقیقي روح را ژوندی کوي او انسان د خپل تخلیق له اصل مقصد سره نښلوي.

دا میاشت د صبر او زغم میاشت ده، دا میاشت د ټولنیزو مسئولیتونو پېژندلو او پرځای کولو میاشت ده، دا میاشت د اسلامي شریعت له نظره یواځې د

عبادت، تزکیې او تقوی میاشت نـه ده، بلکـې د حقـوق الله او حقـوق العبـاد د پـر ځای کولو یوه جامعه مدرسه ګڼل کېږي، چې په کې هـر مسـلمان د خپـل نفـس اصـلاح، د اخلاقـو لوړتیـا، د ټـولنیزو مسـئولیتونو مراعـات، د عـدالت او انصـاف ټینګښت او د ټولنې د اصلاح لپاره عملي مهارتونه زده او عملي کوي. دا میاشـت د مؤمن د اخلاقي، روحاني او ټولنیز جوړښت یوه مهمه مرحله ده، چې پـه کـې د انساني عزت او کرامت ساتنه، له فقیرانو او بې وزلو سره مرسته، د ټولنې په خیریه او عامه چارو کې فعال ګډون، د ظلم مخنیوی، د مسلمانانو تر منځ ورورولي او د ټولنې په ټولو برخو کې د اخلاقي ارزښتونو رعایت کولـو میاشـت ده، د دې لپـاره چې فردي عبادتونه یوائې د شخصي روحانیت تـر کچـې محـدود پـاتې نـه شي، بایـد د ټـولنیزو، اخلاقـي او معنـوي مسـئولیتونو پـه چوکـاټ کـې پـه سـمه توګـه عملي شي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اسلامي علومو معاونیت د تفسـیر او حـدیث مرکـز پـه هڅـو د ۱۴۰۴/۱۲/٦ هجـري لمریـز کـال چـې د ۱۴۴۷/۹/۸ هجـري سپوږمیز سره برابره ده، د علومو اکاډمۍ د علامه احمد علي کهزاد د سـیمینارونو او کنفرانسونو په تالار کـې د «رمضـان او د نفـس اصـلاح» تـر سرلیـک لانـدې علمي ـ څېړنیز کنفرانس دایر شو. په دې کنفرانس کـې د افغانسـتان د اسـلامي امارت د علومو اکاډمي عمومي رئیس شیخ الحدیث مولوي فریدالدین محمود، د علومـو اکـاډمي معـاونین، ګـڼ شـمېر علـماء کرامـو، څېړونکـو، اسـتاذانو، اداري کارکوونکو او قدرمنو مېلمنو ګډون کړی وو، دغه کنفـرانس د ذکـر شـوو مـواردو د ښه وضاحت او د رمضان د نفس اصلاحي پیغـامونو د رسـولو مسـئولیت د اداء پـه موخه په ډېر ښه او مناسب وخت کې دایر او د قرآن کریم د څو مبـارکو آیتونـو پـه تلاوت سره پیل شو.

د کنفرانس افتتاحیه وینا د افغانستان د اسلامي امـارت د علومـو اکـاډمي د

عمومي رئيس شيخ الحديث مولوي فريدالدين محمود حفظه الله پيل کړه، لومړی يې د نوموړي کنفرانس د علمي ـ څېړنيزو مقالو ليکوالان او څېړونکې وسايل او له الله ﷻ څخه يې ورته د عظيم اجر غوښتنه وکړه او زياته يې کړه: (روژه د اسلام له پنځو بناوو څخه يوه بنا او رکن دی، دا داسې عمل دی چې په دې باندې د اسلام قيام راغلی. انسان تل د ګټو په تکل کې وي او هر څوک غواړي ځان د برياوو لوړو څوکو ته و رسوي، چې اصل کاميابي د آخرت لوړو مرتبو ته رسېدل دي، د آخرت کاميابی ته الله ﷻ فوز عظيم ويلی او هرې بريا ته چې الله ﷻ عظيم و ويلې هغه بريا لا محدوده وي او تصور يې نه کيږي.

په ډېر شوق او ذوق سره ستاسو راتګ دې مجلس ته د رمضان المبارک د فضائلو بيان او وضاحت ورکړ؛ ترڅو هر څوک ورته په بيړه منډې و وهي. د دې علمي کنفرانس موخه ترغيب دی، صلهٔ رحم، اطاعت، عبادات، صدقات، تلاوت او له مور او پلار سره احسان کولو ته).

په پای کې يې ټولو ته د صلهٔ رحم او له مور او پلار سره د احسان کولو توصيه وکړه.

دوهم ويناوال د علومو اکاډمي د اسلامي علومو ښاغلی معاون مفتي ابوسعيد الراشد وو، چې خپله وينا يې په لنډو ټکو کې د علمي کنفرانس ګډونوالو ته واوروله، په سر کې يې زياته کړه چې د (رمضان او د نفس اصلاح) علمي کنفرانس هدف څه دی چې هر کال د رمضان په مياشت کې نيول کيږي؟، بيا يې په خپله داسې وضاحت ورکړ: (اصلي موخه او هدف يې دا دی، چې د کنفرانس د علمي مقالو او بيانونو څخه بايد هر اورېدونکی، ليکونکی او لوستونکی د عمل کولو کلکه اراده وکړي چې دا هدف به په ځان، کورنۍ او ټولنه باندې عملي کوو؛ نو دا به ګټور کنفرانس وي. راځئ چې له اوس نه د کنفرانس له پايلو څخه پوره ګټه پورته او د عملي کولو کلکه اراده يې وکړو).

بيا په کنفرانس کې ليکل شوې مقالې د ليکوالانو له خوا ولوستل شوې د

کنفرانس په اجندا کې ټولې (١٤) علمي ـ څېړنيزې مقالې د لوست لپاره ځای پر ځای شوې وې، په آخر کې دغه کنفرانس د ښاغلي څېړنوال محمد داود ناظم له خوا و ارزول شو، نوموړي د خپلې وينا په يوې برخه کې داسې وويل: (په کنفرانس کې تازه او د قدر وړ معلومات وو چې عملي او اغېزناکې پايلې او وړانديزونه يې لرل، په دې کنفرانس کې د الهي ارشاداتو، نبوي احاديثو او بشري علومو په رڼا کې داسې موضوعات وړاندې شول چې زموږ او د ټولنې د تقوی د پياوړتيا، د زړه د نرمۍ او ثوابونو احساس يې را ژوندی کاوه، په دې کنفرانس کې پر موضوع باندې د ويناوالو ترکيز او د مخاطبينو پاملرنه په لوړ حد کې معلومېدله، چې دا د کنفرانس د لوړو اهدافو د تحقق څرگندونه کوي، د کنفرانس د اغېزناکو ويناوو په رڼا کې د عمل اراده، د يوه کنفرانس يا علمي وينا ارزونه په دې هم ښه کېدلی شي چې د هغې په پايله کې له مخاطبينو سره کوم لوړ برداشتونه يا اخيستنې، موخې او اغېزې را ټوکېدلي دي؛ چې له دې علمي-څېړنيز کنفرانس څخه لاندې برداشتونه لوړې موخې او اغېزې د انسان په ذهنيت کې را ټوکېږي:

- روژه د انسان د دنيا او آخرت د مادي او معنوي گټو او کاميابيو سبب کېږي.
- روژه او نور عبادات مو د الله ﷻ په عظمت او مهربانۍ باندې لا ښه پوهوي.
- روژه د انسان د اهدافو، نيت او عمل د اصلاح او ښه اخلاص سبب کېږي.
- روژه د نفس د اصلاح سبب کېږي.
- روژه په انسان جوړولو او د هغه په هر اړخيزه وده، رفعت او عظمت کې اغېزناک رول لري.
- روژه په انسان کې د تقوی او خدای پرستۍ رښتينې روحيه پياوړې کوي.

- روژه د عبادتونو او ثوابونو د زیاتوالي او څو چنده کېدلو فرصت دی.
- روژه او د هغې اړوند عبادات د انسان د ارادې او همت د تقویت وسیله ده.
- روژه د حقوق الله او حقوق العباد د ادایني عملي مدرسه ده.
- روژه د ټولنیز مسئولیت او عدالت عملي تمرین او غوره ریاضت دی).

په پایله کې ویلی شو چې د رمضان له لغوي او اصطلاحي تعبیر نه په استفادې روژه د انسان د هر مذموم خصلت د زوال او د هر ممدوح خصلت د تقویت او ودې لامل کېږي؛ چې نظر پر دې معیارونو او برداشتونو دغه علمي-څېړنیز کنفرانس د قدر وړ، پر وخت او اغېزناک او مثبت ارزول کېږي.

په پای کې کنفرانس د طبیعي – تخنیکي علومو د برخې مرستیال شیخ الحدیث مولوي امیرجان ثاقب په دعائیې سره پای ته و رسېده.

**والسلام**

**څېړندوی صالح محمد" فرید"**

**د تفسیر او حدیث مرکز علمي غړی**